
# د دورود پاک

## فضیلتونه

پښتو



- د منې نه غټه د انار نه وره میوه
- د اهلسنت یوه نخښه
- د بد شکل نه خلاصی
- د یو سوداګر واقعه


پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه(دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډپارټمنټ(دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د دُرُود پاک فضیلتونه

**دُعائے عطّار:** یا رَبِّ کریم! څوک چې دا رساله ”د دُرُود پاک فضیلتونه“ اولولي یا واوري هغوئي له د زیات دُرُود و سلام لوستلو توفیق ورکړې او هغوئي د مور پلار سره بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** چا چې په ما باندې یو ځل دُرُود پاک اولوستلو الله پاک په هغه باندې لس رحمتونه لیږي.

(مسلم، ص172، حدیث:912)

حضرت شیخ ابو عبد الله رضاع رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: رحمت انعام ته وئیلے شي (د دې روایت مطلب دا دے چې) الله پاک په دُنیا او آخرت کښې پرله پسې بنده ته انعامونه عطا کوي. قاضي عبد الله سکاکي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: د الله کریم ”یو رحمت“ دنیا او څه چې په دنیا کښې دي د دې نه بهتر دے نو تهٔ د دې باره کښې څه ګمان کوې چا ته چې الله پاک لس رحمتونه عطا کړي، الله پاک به په لسو رحمتونو د دغه بنده نه څومره آفتونه، مصیبتونه لرې کړي او د دې لسو رحمتونو نه به څومره برکتونه حاصلیږي.

شیخ ابو عطاء رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: الله کریم چې په چا باندې یو رحمت


www.dawateislami.net

نازل کړي هغه د هغه د دنيا او آخرت په ټولو معاملو کښې کفايت کوي نو په چا باندې چې لس رحمتونه نازل شي د هغې به څه حالت وي؟

(مطالع المسرات، ص30)

رحمت دادریا الٰہی ہر دم وگدا تیرا ــ جے اک قطرہ بخشے مینوں کم بن جاوے میرا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاک د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ستاسو په ورځو کښې د ټولو نه افضل ورځ د جُمعے ده، په دې ورځ باندې حضرت آدم صَفِيُّ الله پيدا شو، په دې کښې د هغوئي روحِ مبارک قبض کړے شو، په دې ورځ به شپيلئ وهلے شي او په دې ورځ به هلاکت راځي ځکه په دې ورځ باندې په ما باندې زيات دُرُود پاک لولئ ځکه چې ستاسو دُرُود پاک ما ته را رَسَولے شي. صحابهٔ کرامو عَليهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: "يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د وِصال نه پس به دُرُود پاک تاسو ته څنګه در رسولے کيږي؟" ارشاد ئې اوفرمائيلو چې "الله پاک د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام بدنونه خوړل په زمکه باندې حرام کړي دي." (ابو داود، 391/1، حديث: 1047)

تُو زندہ ہے واللہ تو زندہ ہے واللہ ــ مرے چشمِ عالم سے چھپ جانے والے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## په پل صراط باندې نُور

د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ما باندې دُرُود د پلِ صراط د پاره نُور دے، څوک چې په ما باندې د جُمعے په ورځ اتيا [80] ځله دُرُود راليږي، الله پاک د هغه د اتياؤ [80] کالو ګناهونه معاف کوي.

(جامع صغير، ص320، حديث:5191)

## د جُمعې په ورځ د زر [1000] ځله دُرُود پاک لوستلو فضيلت

د رحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې د جُمعې په ورځ باندې زر [1000] ځله دُرُود پاک اولولي هغه به [تر هغه وخته پورې] نه مري تر څو پورې چې په جنت کښې خپل مقام اونه ويني. (الترغيب و الترهيب، 2/328، حديث:22)

## د دُرُود پاک فضيلت

حضرت سفيان ثوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما د طواف په وخت يو کَس په هر قدم باندې په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په دُرُود شريف لوستلو اوليدلو نو د هغه نه مې پوښتنه اوکړه: اے وروره! د (سُبْحٰنَ اللّٰهِ او لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) په ځائے د دُرُود پاک وِرد کوې، په دې کښې ستا څه راز دے؟ نو هغه [زما نه] پوښتنه اوکړه: الله پاک دې تاسو معاف کړي، تاسو څوک ئې؟ ما اووئيل: زه سفيان ثوري يم. نو هغه اووئيل: که چرې تاسو



www.dawateislami.net

شمیر د زمانے په اولیاؤ کښې نه وے نو ما به تاسو ته هیڅ کله دا راز نه وئیلو، زه د خپل والِدِ محترم سره د بَیتُ الله د حج په اراده رااووتم. په سفر کښې زما والدِ محترم بیمار شو نو زه د خپل والدِ محترم د علاج د پاره حصار شوم. د علاج په وخت هغوئي وفات شول اومخ ئې تور شو.ما''اِنَّالِلّٰہِوَاِنَّآ اِلَیۡہِرٰجِعُوۡنَ'' اولوستل او د هغه مخ مې پټ کړو، د دې غم په حالت کښې په ما خوب زورَوَر شو او زه اوده شوم. ما په خوب کښې یو ګس اولیدلو چې د هغه نه زیات ښائسته او ښکلے ما کله هم نه وو لیدلے. د هغه جامې ډیرې صفا سُترا وې او د هغه نه داسې خوشبوئي راتلله کومه چې ما چرې هم نه وه بوئ کړې. هغه قدم په قدم راتللو او زما د والدِ محترم خوا له ئې تشریف راوړلو او د هغه د مخ نه ئې خادر لرې کړو او په لاس باندې د هغه د مخ طرف ته اشاره اوکړه زما د پلار مخ سپین شو. بیا هغه واپس روان شو نو ما د هغه لمَن اونیوله او عرض مې اوکړو، الله پاک ستاسو په برکت په دې مسافرئ کښې زما د پلار د عزت خیال اوساتلو، تاسو څوک ئې؟ هغوئي اوفرمائیل: تهٔ ما نه پیژنې؟ زه صاحبِ قرآن نبـي مُحَمَّد بن عبد الله (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) یم، ستا والدِ صاحب اګرچه ګنهګار وو خو په ما باندې به ئې ډیر زیات دُرُود پاک رالیږلو، کله چې په دې باندې مصیبت نازل شو نو ده زما نه مرسته اوغوښتله او زه د هر هغه ګس کوم چې په ما باندې زیات



www.dawateislami.net

دُرُود وائي، فرياد اوريدلو والا يم. ځلمي اووئيل: د دې نه پس ناڅاپه زما سترګې اوغړيدلې، ما اوکتل چې زما د پلار مخ سپين شوے وو.

(تفسير روح البيان، پ 22، الاحزاب، تحت الاية:56، 7/225 بتغير قليل)

## د دُرُود پاک مقصدونه او فائدے

حضرت حليمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (متوفی 403ھ) فرمائي: "د دواړو جهانونو په مالک و مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود پاک لوستلو يو مقصد خو دا دے چې د الله پاک په حکم باندې عمل اوکړے شي او د هغه نزدې والے حاصل کړے شي او دويم دا چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مونږ باندې کوم حق دے هغه ادا کړے شي."

حضرت ابنِ عبد السلام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (متوفی 660ھ ) هم د دوئي د اتباع کولو سره ارشاد اوفرمائيلو: "زمونږ په نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود پاک ليږل د هغوئي د پاره قطعاً د څه قِسمه سفارش سبب نه جوړيږي ځکه چې زمونږ په شان انسان د هغوئي په شان د هستئ شفاعت څنګه کولے شي؟ البته! الله پاک مونږ ته حکم کړے دے چې مونږ د خپل محسنِ اَعظم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احساناتو بدله ورکړو او که داسې اونکړے شو نو د هغوئي په حق کښې دُعا اوکړو. بس الله پاک زمونږ حالت ته د کتلو سره چې مونږ د خپل نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احساناتو د بدلے ورکولو نه عاجز يو نو مونږ ته



www.dawateislami.net

ئې په هغوئي باندې د دُرُود پاک لوستلو تعلیم اوفرمائیلو.'' د حضرت شیخ ابو محمد مرجاني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه هم څه داسې قِسمه کلام نقل دے.

حضرت قاضي ابو بکر ابن العربي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (متوفی 543ھ) ارشاد فرمائي: ''په حضور نبئ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود پاک لوستلو فائده ښځپله لوستونکي ته وي ځکه چې دا خبره په ښه عقیده، خالص نیت، د محبت اظهار، همیشه د فرمانبرداره پاتې کیدو او د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسیله مبارکه محترمه ګڼلو باندې رهنمائي کوي.

(المواهب اللدنیة للقسطلانی، 2/504 تا 506)

حضرت اَبُو المَواهِب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته په خوب کښې د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زیارت شرف حاصل شو نو هغوئي ما ته ارشاد اوفرمائیلو؛ ''د قیامت په ورځ به تهٔ د یو لاکه بندګانو شفاعت کوې.'' ما عرض اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زه د دې څنګه قابل شوم؟ نو ارشاد ئې اوفرمائیلو: ''ځکه چې تهٔ په ما باندې د دُرُود لوستلو سره د دې ثواب ما ته رالیږې.

(الطبقات للشعرانی، رقم:318، 2/101)

حضرت حَسنِ بصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم کَس چې د حوضِ کوثر ډک جام څښل غواړي هغه دې دا دُرُود پاک لولي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِه وَاَصْحَابِه وَ اَوْلَادِه وَاَزْوَاجِه وَذُرِّيَّتِهِ وَاَهْلِ بَيْتِهِ وَاَصْهَارِهٖ وَاَنْصَارِهٖ وَاَشْيَاعِه وَمُحِبِّيْهِ وَاُمَّتِهِ وَعَلَيْنَا مَعَهُمْ اَجْمَعِيْنَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

(الشفا، جزء ثانی، ص72)



www.dawateislami.net

## د منې نه غټه او د انار نه وړه میوه

د امیرُ المُؤمِنین حضرت عَلِـیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه روایت دے چې الله کریم په جنت کښې یوه وَنه پیدا کړې ده، د کومې میوه چې د منې نه غټه، د انار نه وړوکې، د کوَچو نه نرمه، د شاتو [یعني ګبین] نه هم خوږه او د مشکو نه زیاته خوشبوداره ده. د هغه وَنې ښاخونه د ملغلرو، تَنه د سرو زرو او پاڼې د زَبَرجَدو دي. د هغې وَنې میوه به صرف هغوئي خوړے شي څوک چې په رسولِ پاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې زیات دُرُود پاک لولي. (الحاوی للفتاوی، 48/2)

## جنت فراخه کیږي

حضرت عبدُ العزیز دَبّاغ رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: په نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود پاک لوستلو یو برکت دا دے چې د جنت په اړخونو کښې اوسیدونکې فرښتې چې کله په نبيِ کریم، رؤُفٌ رّحیم صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود پاک لولي نو جنّت فراخه کیږي. (الابریز، 338/2)

## په هر مصیبت کښې مدد

حضرت ابو بکر شبلي بغدادي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: ما خپل وفات شوے ګاونډي په خوب کښې اولیدلو او پوښتنه مې ترې اوکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ یعني الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائیله؟ هغه اووئیل: زه ډیر د سختو نه تیر شوم، د منکر نکیر د پوښتنو جوابونه هم زما نه نۀ جوړیدل، ما په زړه



www.dawateislami.net

کښې سوچ اوکړو چې کیدے شي زما خاتمه په ایمان باندې نه وي شوې! په دې کښې آواز راغلے: په دُنیا کښې د ژبې د غیر ضروري استعمال په وجه تا له سزا درکړے کیږي. بیا د عذاب فرښتې زما په لور را وړاندې شوې. په دې کښې یو صاحب چې ډیر ښکلے او خوشبوداره وو، هغه زما او د عذاب ترمینځه راغلے او هغه ما ته د منکر نکیر د پوښتنو جوابونه را یاد کړل او ما دغه شان جوابونه ورکړل. اَلْحَمْدُلِلّٰه! عذاب زما نه لرې شو. ما هغه بزرګ ته عرض اوکړو: الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي تاسو څوک يئ؟ اوئې فرمائیل: ستا د ډیر زیات دُرُود شریف لوستلو په برکت زه پیدا شوے یم او ما ته په هر مصیبت کښې ستا د مرستې کولو ذمه واري سپارلے شوې ده.

(القول البدیع، ص260)

آپ کا نامِ نامی اے صلِّ علٰی ہر جگہ ہر مصیبت میں کام آگیا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## قبر ته آقا ولې نشي راتللے!

سُبْحٰنَ الله! د زیات دُرُود شریف په برکت سره د مرستې کولو د پاره چې فرښته راتلے شي نو د ټولو فرښتو هم آقا مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم ولې نشي کولے! چا خو بالکل په ځائے فریاد کړے دے.

میں گور اندھیری میں گھبراؤں گا جب تنہا اِمداد مری کرنے آجانا مرے آقا

روشن مِری تُربت کو لِلّٰہ شہا کرنا جب وقتِ نزع آئے دیدار عطا کرنا



www.dawateislami.net

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په دُرُود و سلام باندې د مئین مقام

حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یوه ورځ د بغداد شریف د ډیر لوئے عالم حضرت ابو بکر بن مُجاهد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خوا له تشریف یوړلو نو هغوئي فوراً اودریدل او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د تندي ښکلولو سره ئې ډیر په تعظیم سره د ځان خوا کښې کښینولو، حاضرینو عرض اوکړو: یا سیِّدي! تاسو او د بغداد خلقو به تر پرونه پورې دوئي ته دیوانه وئیلو خو نن د دوئي دومره قدر او تعظیم ولې؟ جواب ئې ورکړو: ما هسې داسې اونه کړل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! بیګاه ما په خوب کښې یوه ایمان تازه کوونکې نظاره اولیدله چې ابو بکر شبلي په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو نو د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودریدلو او دوئي ئې خپلې سینې ته راجوخت کړل او د تندي ښکلولو سره ئې د ځان خوا کښې کښینولو. ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! په شبلي باندې د دومره شفقت وجه؟ د الله پاک محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (د غیبو خبر ورکولو سره) اوفرمائیل چې دا د هر لمُونځ نه پس دا آیت لولي:

﴿ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ ﴾ (پ: 11، التوبه: 128) او د دې نه پس په ما باندې دُرُود لولي. (القول البدیع، ص 346 بتغیر قلیل)


www.dawateislami.net

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دُرُود شريف ليکلو والا مغفرت اوشو

حضرت سفيان بن عيينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما يو ديني ورور وو، د وفات نه پس ما هغه په خوب کښې د ليدلو سره مې ترينه پوښتنه اوکړه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ جواب ئې راکړو: الله پاک زه اوبخښلم. ما ترينه پوښتنه اوکړه: د کوم عمل په سبب؟ اوئې وئيل: ما به حديث ليکلو کله چې به هم د شاهِ خيرُ الاَنام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير راتللو ما به د ثواب په نيت باندې "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم" ليکلو، د دې عمل په برکت باندې زما بخښنه اوشوه.　(القول البديع، ص463)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د مالکِ جنت، ساقي کوثر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: "لَيَرِدَنَّ الْحَوْضَ عَلَيَّ اَقْوَامٌ مَّا اَعْرِفُهُمْ اِلَّا بِكَثْرَةِ الصَّلَاةِ عَلَيَّ يعني په حوضِ کوثر باندې به څه خلق زما خوا له راځي کوم چې به زه د زيات دُرُود په وجه اوپيژنم."　(القول البديع، ص264)

## د اهلسُنَّت يو نښه

حضرت امام زين العابدين علي بن حُسين بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُم فرمائي: عَلَامَةُ اَهْلِ السُّنَّةِ كَثْرَةُ الصَّلَاةِ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰه يعني په رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې زيات دُرُود لوستل د اهلِسُنَّت نښه ده.　(القول البديع، ص131)



www.dawateislami.net

## درد او پړسیدل ختم شو

حضرت عبد الرحمان بن احمد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زه "حَمَّام" ته لاړم نو هلته راپریوتم، د درد په وجه مې لاس اوپړسیدو، د شپې هم په دې تکلیف کښې د (دُرُود پاک لوستلو سره) اوده شوم، په خوب کښې راته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زیارت شرف حاصل شو، ما د خواست کولو سره عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! نو هغوئي ما ته اوفرمائیل: اے زما ځویه! (د تکلیف په حالت کښې) ستا دُرُود (لوستلو) زه نا قلاره کړم. چې کله سحر شو نو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت سره د درد او پړسوب نوم او نشان هم نه وو. (القول البديع، ص 328 ملتقطا)

## په حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحي راغله

الله پاک په حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحي نازله کړه: اے موسٰی (عَلَيْهِ السَّلَام)! آیا ته غواړې چې څومره ستا کلام ستا ژبې، ستا خیالونه ستا زړه، ستا روح ستا بدن، ستا د بینائي نُور ستا سترګو ته نزدې دے، زه د دې نه هم زیات تا ته نزدې شم؟ عرض ئې اوکړو: آو! اوئې فرمائیل: بیا په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډیر دُرُود شریف لیږه. (حلية الاولياء، 33/6، رقم: 7716)

نوح و خلیل و موسیٰ و عیسیٰ　　　سب کا ہے آقا نامِ محمد
پائیں مرادیں دونوں جہاں میں　　　جس نے پکارا نامِ محمد
دونوں جہاں میں دنیا ودیں میں　　　ہے اِک وسیلہ نامِ محمد

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

حضرت امام جلالُ الدِّین سُیُوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "شرحُ الصُّدور" کښې لیکي: د حضور نبـي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حیاتِ ظاهري کښې به د وفات کیدونکي په خوا کښې دا وئیلے کیدل: اے الله پاکه! فلانکے بن فلانکے اوبخښې، د ده قبر یخ او فراخه کړې، د وفات نه پس ده ته قرار عطا کړې، د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نزدې والے ئې د نصیب کیدو سره، دا دوست اوساتې او د ده روح د نیکانو د روحونو په لور اوچت کړې، مونږ د ده سره په داسې کور کښې راجمع کړې په کوم کښې چې صحت باقي پاتې شي، غم او ستړے والے لرې وي. دې سره سره به په بارګاهِ رسالت کښې دُرُود لوستلے شو، تر دې چې د هغه روح به قبض شو.

(شرح الصدور، ص37)

## په کتاب کښې د دُرُود پاک لیکلو برکت

د حضرت عبدُ الله بن صالح صوفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روایت دے چې د یو مُحَدِّث په خوب کښې د لیدلو سره پوښتنه اوکړے شوه: الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائیله؟ اوئې وئیل: زه ئې اوبخښلم. په څه وجه؟ اوئې وئیل: په خپلو کتابونو کښې په حضور نبـي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لیکلو په وجه. (تاریخ ابن عساکر، 54/113، رقم: 6646)

## د دُرُود پاک برکت



www.dawateislami.net

حضرت حَفص بن عبد الله رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بیانوي چې حضرت ابوزُرعه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د وفات نه پس ما په خوب کښې اولیدلو نو هغه په آسمان کښې د فرښتو سره لمُونځ کولو، ما اووئیل: دې اوچتې مرتبے ته څنګه اورسیدې؟ اوئې فرمائیل: ما په خپل لاس باندې یو لاکھ حدیثونه مبارک لیکلي دي او ما په هغه ټولو کښې دُرُود پاک لوستلے دے او د حضور نبيِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشَرًا یعنې څوک چې په ما باندې یو ځل دُرُود اولولي الله پاک د دې په بدله کښې په هغه باندې 10 رحمتونه نازلوي. (تاریخ بغداد، 334/10، رقم: 5469)

## د مړي په خوب کښې د لیدلو عمل (حاشیه)

یوه زنانه د حضرت امام حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضره شوله او عرض ئې اوکړو: زما پیغله لور وفات شوې ده، زه غوارم چې هغه په خوب کښې اووینم، څه داسې دُعا راته اوښائې په کومه چې زما مُراد پوره شي، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغې ته یوه دُعا اوښودله، هغې زنانه د شپې هغه دعا اولوستله او خپله وفات شوې لور ئې په خوب کښې اولیدله خو په دې حال کښې وه چې هغې د دوزخ د تارکولو جامې اغوستې وې، د هغې په لاسونو کښې زنځیرونه او په ښپو کښې بیړۍ وې. زنانه په بَله ورځ دا خوب هغوئي ته اووئیلو، هغوئي ډیر غمژن شول. څه موده پس حضرت امام حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خوب


www.dawateislami.net

کښې هغه جینۍ په جنت کښې اولیدله، د هغې په سر باندې تاج وو، هغې هغوئي ته اووئیل: تاسو ما پیژنئ؛ زه د هغې زنانه لور یم کومه چې ستاسو خوا له راغلې وه او زما تباه حالت ئې تاسو ته وئیلے وو. هغوئي د هغې نه پوښتنه اوکړه: ستا په حالت کښې دا انقلاب څنګه راغلے؟ جینۍ اووئیل: د مقبرې په خوا یو نیک ګس تیر شو او هغه په حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود اولیږلو، د هغه د دُرُود لوستلو په برکت سره الله پاک زمونږ د 500 قبرونو والؤ نه عذاب لرې کړو. (مکاشفة القلوب، ص24)

نکته: مفتي تقدس علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه دلته دا وضاحت فرمائي: د غور مقام دے چې په حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود لیږلو په برکت دومره زیات خلق اوبخښلے شول، آیا هغه ګس کوم چې د 50 کالو نه په حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود لیږي، په قیامت کښې به د هغه بخښنه نه کیږي! (مکاشفة القلوب، ص24)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بدن او رُوح سلامتیا

د یو عقلمند قول دے چې د بدن سلامتیا په کم خوراک کښې ده او د رُوح ژوند په لږو ګناهونو کښې دے او د ایمان سلامتیا په حضور نبي کریم رَؤف رحیم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې په صلاة و سلام لوستلو کښې ده.
(مکاشفة القلوب، ص9)


www.dawateislami.net

## د بد شکل نه خلاصے

وئیلے شي چې یو سړي په ځنګل کښې د یو بد شکل لیدلو سره پوښتنه اوکړه: تهٔ څوک ئې؟ هغه جواب ورکړو: زه ستا بد عمل یم، هغه سړي ترینه پوښتنه اوکړه: ستا نه د خلاصي هم څه صورت شته؟ هغه جواب ورکړو چې په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود لوستل. (مکاشفة القلوب، ص30)

## د دُرُود نه لیږلو والا نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ اړول

یو کَس به په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف نه لیږلو، یوه شپه هغه په خوب کښې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولیدلو، هغوئي هغه ته پام اونکړو، هغه کَس عرض اوکړو چې حضور زما نه خفه ئې څکه مو پام اونکړو؟ هغوئي جواب ورکړو: نهٔ! زه تا هډو پیژنم نه، عرض اوکړے شو حضور ما څنګه نه پیژنئ حالانکه علماء وائي چې تاسو خپل اُمتیان د هغوئي د میندو نه هم زیات پیژنئ. هغوئي اوفرمائیل: علماؤ ربښتیا وئیلي دي خو تا په ما باندې د دُرُود رالیږلو سره ځان یاد نه کړو، زما کوم اُمتي چې په ما باندې څومره دُرُود رالیږي زه هغه هم هغه همره پیژنم، د هغه کَس په زړه کښې دا خبره کښیناسته او هغه هره ورځ 100 ځله دُرُود وئیل شروع کړو، څه موده پس ورته بیا د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدن په خوب کښې نصیب شو، هغوئي اوفرمائیل: زه اوس تا پیژنم او زه به ستا شفاعت کووم.

(مکاشفة القلوب، ص30)



www.dawateislami.net

## د ماتوونکي ځناور نه خلاصے څنګه میلاؤ شو؟

حضرت ابو الحسن علي شاذلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په یو ځنګل کښې وو چې ناڅاپه د هغوئي مخې ته یو ماتوونکے ځناور راغے، د هغوئي سره د خپل ځان فِکر شو، بس هغوئي د ویریدو سره د نبـيِ کریم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په ذاتِ پاک باندې دُرُود و سلام لوستل شروع کړل د کوم په برکت چې هغوئي د هغه ماتوونکي ځناور نه خلاصے بیاموندو او د هغوئي ژوند بچ شو.

(سعادة الدارین، ص152)

حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل وړور حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ملاقات د پاره لاړلو، هغه ډیر خوشحاله په نظر راتللو، (د خوشحالئ وجه ترې چې اوپوښتلے شوه نو) اوئې وئیل چې بیګاه شپه زما په خوب کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدن نصیب شو، هغوئي ما له یو لوښے راکړو، په کوم کښې چې اوبه وې، ما په مړه ګیډه اوڅښلې، د کومو یخ والے چې تر اوسه پورې محسوسوم. حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه اوکړه: ستاسو دا مقام څنګه نصیب شو؟ اوئې فرمائیل: په حضور نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د زیات دُرُود پاک لوستلو په وجه. (سعادة الدارین، ص149)

## د دُرُود و سلام لوستلو برکت

د ابو عَرُوبه الحراثاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه معمول وو چې د هغوئي په مخکښې به کله چا حدیث وئیلو نو هغوئي به د دُرُود و سلام وئیلو نه بغیر نه پاتې کیدل او د



www.dawateislami.net

ښه ظاهرولو سره به ئې لوستلو او وئيل به ئې چې د حديث شريف د لوستلو يو برکت دا دے چې په دُنيا کښې د زيات دُرُود و سلام لوستلو سعادت حاصليږي او په جنت کښې بهاِنْ شَآءَاللّٰه د جنت نعمتونه ميلاويږي.

(سعادۃ الدارین ، ص198)

## د دُرُود پاک فضيلت (واقعه)

حضرت شيخ حُسين بن احمد کَوَّاز بِسطامي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د الله پاک نه دا سوال اوکړو چې (يا الله پاکه!) زه په خوب کښې ابُو صالِح مُؤَذِّن رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ليدل غواړم. (زما دُعا قبوله شوه او) ما په خوب کښې هغوئي په ښه حالت کښې اوليدلو او پوښتنه مې ترينه اوکړه: اے ابُو صالحه! تاسو څنګه ئې؟ اوئې فرمائيل: اے ابُو الحسن! که د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذات مې زيات دُرُود پاک نه وو وئيلے نو زه به هلاک (يعني برباد) شوے وے.

(سعادت الدارین ، ص 136)

ذاتِ والا پہ بار بار دُرُود
بار بار اور بے شمار دُرُود
بیٹھتے اٹھتے جاگتے سوتے
ہو الٰہی مرا شعار دُرُود

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د هر درد دَارو

يو ځل خليفه هارون رشيد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيمار شو، ډير علاج ئې اوکړو خو



www.dawateislami.net

شِفا ئې نصيب نه شوه، په دې حالت کښې شپږ مياشتې تيرې شوې. يوه ورځ هغه ته پته اولګيده چې حضرت سَيِّدُنا شيخ شبلي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د محل په خوا تيريږي نو خليفه هغوئي ته د ځان خوا ته د تشريف راوړلو خواست اوکړو. کله چې هغوئي تشريف راوړو نو د خليفه د ليدلو سره ئې ارشاد اوفرمائيلو: فِکر مه کوه د الله پاک په رحمت سره به هم نن آرام راشي. بيا هغوئي دُرُود پاک اولوستلو او د خليفه په بدن باندې ئې لاس راښکلو نو هغه هم هغه وخت روغ رَمَټ شو. (راحت القلوب (فارسی)، ص 50)

ہر دَرد کی دوا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد　　　تعویذ ہر بلا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د يو سوداګر واقعه

يو سوداګر ډير خوشحاله وو، کاروبار ئې ښه ټيک ټاک روان وو، بيا حالات بدل شو، د هغه سوداګر مالي حالات خراب شول، په کاروبار کښې ئې دومره نقصان اوکړو چې د هغه کاروبار بالکل ختم شو او هغه ګس بالکل محتاج پاتې شو. هغه د يو دوست نه درې زره (3000) ديناره (د سرو زرو سِکې) قرض اخستے وو او د واپسئ نيټه ټاکلے شوې وه، قرض ورکوونکي په ټاکلے شوې نيټه باندې د قرض د واپسئ غوښتنه اوکړه، هغه معذرت اوکړو چې وروره مجبور يم، زما سره هيڅ خيز نشته، قرض ورکوونکي د قاضي خوا له لاړو او



www.dawateislami.net

مقدمه ئې پرې درج کړه، قاضي صاحب هغه قرضدار سوداګر را اوغوښتلو او د مقدمے باقاعده اوريدلو نه پس ئې هغه قرضداري له د يوے مياشتې مهلت ورکړو او هدايت ئې اوکړو چې په دې موده کښې دې خامخا د قرض واپس کولو انتظام اوکړي. هغه قرضدار سوداګر ډير پريشانه شو، سوچ ئې اوکړو چې څه به کووم؟ ممکن ده چې هغه چرته لوستلي وو يا د علماؤ نه ئې اوريدلي وو چې د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: په کوم بنده باندې چې څه مصيبت، څه پريشاني راشي نو هغه دې په ما باندې ډير دُرُود پاک لولي، ځکه چې دُرُود پاک مصيبتونه او پريشانئ د ځان سره وړي او رزق زياتوي. هغه د عاجزئ سره د جُمات (په يو ګوټ) کښې د کښيناستلو سره دُرُود پاک شروع کړو، کله چې (27) ورځې تيرې شوې نو هغه د شپې يو خوب اوليدو، څوک وئيلو والا وائي: اے بنده! ته مه پريشانه کيږه، الله کريم ډير لوئے کار ساز (کار جوړولو والا) دے ستا قرض به ادا شي. ته د علي بن عيسٰی د سلطنت وزير خوا له لاړ شه او هغه ته اووايه چې د قرض ادا کولو د پاره ما له درې زره (3000) ديناره راکړه. هغه قرضدار سوداګر وائي چې زه کله راويخ شوم نو ډير خوشحاله ووم، پريشاني مې ختمه شوې وه، خو بيا دا خيال هم راغے چې که وزير صاحب څه دليل يا نښه اوغواړي نو زما سره هيڅ دليل نشته. د دې سوچ سره بَله شپه راغله چې کله زه اوده شوم نو بخت مې



www.dawateislami.net

رابیدار شو، ما ته د دوارو جهانونو د سردار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدن نصیب شو، حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د علي بن عیسٰی وزیر خوا له د تللو ارشاد اوفرمائیلو، چې کله سترګې اوغړیدلې نو د خوشحالۍ څه حد نه وو، په دریمه شپه بیا د اُمت والي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو او بیا ئې حکم اوفرمائیلو چې د وزیر علي بن عیسٰی خوا له لاړ شه او هغه ته دا فرمان واوروه، عرض ئې اوکړو: یَا رَسُولَ الله! صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه نښه یا دلیل ارشاد اوفرمائې کوم چې زه هغه وزیر ته اووایم. د دې اوریدلو سره رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل که وزیر ستا نه د څه نښې پوښتنه اوکړي نو ورته اووایه چې تۀ د سحر د لمُونځ نه پس د چا سره د خبرو کولو نه وړاندې د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذات باندې پینځۀ زره (5000) ځله دُرُود پاک لولې، د کومې چې د الله کریم او کراماً کاتبین نه علاوه چا ته هم پته نشته. دا ئې چې اوفرمائیل نو د دوارو جهانونو سردار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف یوړلو، زه راویښ شوم، د سحر د لمُونځ نه پس مې د جُمات نه بهر قدم کیښودو، چې غور مې اوکړو نو معلومه شوه چې نن د مهلت پوره کیدو یوه میاشت شوې وه. زه د وزیر صاحب کور ته لاړم او وزیر صاحب ته مې ټوله قیصه بیان کړه، چې کله وزیر صاحب څه نښه اوغوښته نو ما ورته د آقا کریم، رسولِ عظیم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اووئیلو نو وزیر صاحب ډیر خوشحاله



www.dawateislami.net

شو، هغه کور ته لاړو او نهه زره (9000) دیناره ئې د ځان سره راوړل، په هغې کښې ئې درې زره (3000) د شمیرلو سره زما په لمَن کښې کیښودل او اوئې وئیل: دا درې زره (3000) د قرض ورکولو د پاره دي، بیا ئې درې زره (3000) نور راکړل او اوئې وئیل: دا ستا د بال بچ د خرچې د پاره دي. بیا ئې درې زره (3000) نور راکړل او اوئې وئیل: دا ستا د کاروبار د پاره دي. چې کله ئې رخصتولم نو د قسم راکولو سره ئې اووئیل: اے وروره! تهٔ زما دیني او ایماني ورور ئې، د خدائے د پاره! دا محبت والا تعلق مه پریږده او کله چې هم څه کار وي، د څه څیز ضرورت وي نو ډاډه راځه، زه به ستا مسئله د زړه نه حل کووم. د هغه کَس بیان دے چې زه د هغه رقم سره سیدها د قاضي صاحب عدالت ته لاړم او کله چې فریقین راوغوښتلے شول نو زه را وړاندې شوم او ما درې زره (3000) دیناره د شمیرلو سره د قاضي صاحب مخې ته کیښودل. اوس قاضي صاحب پوښتنه اوکړه چې دا خو اووایه چې دا دومره رقم د چرته نه راغے؟ حالانکه تهٔ خو غریب او کنګال وې. ما ټوله واقعه بیان کړه، قاضي صاحب چې دا واوریدل نو خاموشه شو، بیا پاڅیدو او خپل کور ته لاړو او د کور نه ئې درې زره (3000) دیناره راوړل او اوئې وئیل: ټول برکتونه وزیر صاحب ولې حاصل کړل، زه هم د هُغه در غلام یم، ستا دا ټول قرض زه د خپل جیب نه ادا کووم. کله چې قرض ورکوونکي دا هر څه اولیدل نو



www.dawateislami.net

هغه اووئيل دا ټول رحمتونه تاسو ولې حاصلوئ، زه هم د هغه د رحمت حقدار يم. د دې وئيلو سره هغه په ليکلې توګه اوليکل چې زه د الله کريم او د هغه د رسولِ عظيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا د پاره د دې بنده قرض معاف کووم. د دې ليدلو سره هغه قرضدار سوداګر قاضي صاحب ته اووئيل: جناب ستاسو ډيره مننه. تاسو خپل رقم سمبال کړئ، اوس زما دې ته حاجت پاتې نه شو. نو قاضي صاحب اووئيل: ما چې د الله او د هغه د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت کښې کوم دينار راوړي دي د هغې واپس کولو ته هيڅ کله هم تيار نه يم، دا ستاسو دي تاسو دا يوسئ. هغه صاحب وائي: زه چې د مخکښې نه په قرض کښې راګير ووم بيا د هغه دولس زره (12000) ديناره سره کور ته واپس راغلم، زما قرض هم معاف شو، د کور د پاره خرچه هم ميلاؤ شوه او د کاروبار د پاره هم ښه ډير رقم ميلاؤ شو. دا ټول برکتونه د دُرُود پاک لوستلو په وجه ظاهر شول. (جذب القلوب، ص 237. تاریخ مدینه، مترجم، ص 335)

مشکل جو سر پہ آپڑی تیرے ہی نام سے ٹلی
مشکل کشا ہے تیرا نام تجھ پر دُرُود اور سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُرُودِ پاك برکتونه

حضرت شيخ عبدُ الحق مُحدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❁ د دُرُود شريف سره مصيبتونه لرې کيږي ❁ د بيمارو نه شفا حاصليږي ❁ ويره



www.dawateislami.net

لرې کيږي ❁ د ظلم نه نجات حاصليږي ❁ په دښمنانو باندې فتح حاصليږي ❁ په زړه کښې د هغوئي محبت پيدا کيږي او د الله رضا حاصليږي ❁ فرښتې د هغه ذِکر کوي ❁ د زړه او ځان، اسباب او مال پاکوالے حاصليږي ❁ برکتونه حاصليږي ❁ د اولاد د اولاد تر څلورو نسلونو پورې برکت وي ❁ د دُرُود شريف د لوستلو سره د قيامت د وحشتونو نه خلاصے موندلے کيږي ❁ د ځنکدن سخته آسانيږي ❁ د دنيا د تباه کارئ نه خلاصے موندلے کيږي ❁ لاس تنګي لرې کيږي ❁ هير شوے څيز راياديږي ❁ دُرُود شريف لوستونکے چې کله په پل صراط باندې تيريږي نو نُور به راخور شي او هغه به د ثابت قدم پاتې کيدو سره د سترګو په رَپ کښې خلاصے بياموي ❁ د ټولو نه عظيم سعادت دا دے چې د دُرُود شريف لوستونکي نوم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې وړاندې کولے شي ❁ د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زياتيږي ❁ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوبيانې او خاصيتونه په زړه کښې کور کوي ❁ د زيات دُرُود شريف سره د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصور په ذهن کښې قائميږي ❁ خوش قسمتو ته د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نزدې والے حاصليږي ❁ په خوب کښې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدن فيض نصيب کيږي ❁ د قيامت په ورځ به د مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ



www.dawateislami.net


وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مصافحې سعادت نصيب کيږي ❀ فرښتې مرحبا وائي او محبت کوي ❀ فرښتې د هغه دُرُود د سرو زرو په قلمونو د سپينو زرو په تختو باندې ليکي او د هغه د پاره د بخښنې دعاګانے کوي ❀ په زمکه سيل کوونکې فرښتې هغه دُرُود شريف د مدني سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د لوستونکي او د هغه د پلار د نوم سره وړاندې کوي.

(جذب القلوب، ص 229 ملخصاً. تاريخ مدينه، مترجم، ص 326 ملخصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net




عالمي مدني مرڪز فيضان مدينه محله سوداگران پراڻي سبزي منڊي ڪراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net